مطبوعاتي اعلاميه

۱۳۸۸/۷/۸

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د ملکي وګړو د مرګ ژوبلي له امله چې دوسله والو مخالفينو د عملياتو په پايله کې رامنځ شوي انديښمن دی او د ديرشو ملکي وګړو وژنه چې د وسله والو مخالفينو له خواد کندهار ولايت د کاريز علي شيرولسوالي په سيمي کې د يوه ځاي په ځاي شوي ماين د چاودني په پايله کې چې د ۱۳۸۸ کال د تلي د مياشتي۹ چې د ۲۰۰۹ کال د سپتامبر ۲۹مي سره سمون خوري په کلکه غندي او دا د مخالفينو له لوري د ملي او نړيوالو بشر پالوقانونوڅخه په ښکاره سرغړونه بولي .

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د وژل شويو او قربانيانو کورنيو ته د خواږۍ څرګندونه کوي د لوی خدای له درباره ورته د جميل صبرغوښتنه کوي او د افغانستان له حکومته غواړي چې د دي پيښي د عاملينود محاکمي له پاره د هيڅ ډول هڅي ونه سپموي .

د دي دوه مياشتو په ترڅ کې د وسله والو مخالفينو له خوا ګڼ شمير بريدونه د خوست، لغمان، کابل، هرات او کندهار کې په قصدي توګه د پايلو په درکولو سره يي هم په ملکي وګړو بريدونه تر سره کړل چې په پايله کې له ۱۱۹ تنو ډير ملکي وګړي په کې په شهادت رسيدلي دي او له ۲۴۳ تنو زيات هيوادوال په کې ټپيان شويدي .

پيښي او وژني رابنۍ چې وسله وال مخالفين د بريدونواوعملياتو په ترسره کولوکې د ملکي وګړو د ژوند په وړاندي تر ټولو وسله والو چې د افغانستا په جګړو کې ښکيل دي بي پروا دي چې دا عملونه يي د نړيوالو جګړو د سيستماتيکو قانونو سره قصدي او ښکاره سرغړوني دي بردي بنسټ د بشري حقونو د کميسيون موندني ښي چې وسله وال مخالفين د خپلو وسله والوبريدونو سره چې پو هيږي په پايله کې يي د ملکي وګړو ژوند ته په کې ګواښ پيښيږي پيا هم دا ډول جګړه ييزجنايات د بشرپه وړاندي تر سره کوي .